مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۸/۰۵/۱۹

# د افغان سولې تت او تياره انځور

د ۲۰۱۸ له پيل څخه د سولې اړوند ځينې غونډې د ملي اجماع رامنځته کېدو په موخه د مدني فعالانو، علماوو، استادانو، ځوانانو او قومي مشرانو لخوا د هيواد په مرکز او بېلابېلو ولايتونو کې وشوې، همدا رنګه د افغانستان سولې اړوند ځينې مهمې نړيوالې ناستې د کابل پروسې او تاشکند غونډو په ګډون وشوې.
کابل، هلمند، پکتيا، هرات، ننګرهار، بلخ او ګنو ولايتونو کې د سولې څخه د ملاتړ په موخه پرلتونه وشول. د افغانستان، پاکستان او اندونيزيا علماوو ګډه غونډه د افغان سولې اړوند وشوه.
تر دې مهاله لا هم د سولې برخليک مبهم ښکاري، رښتونولې پکې نه ښکاري، د وسلوالو په زور د سولې ميز ته را کش کولو او د علماو له خوا د دوی د جګړې پر ضد فتوا ورکولو خبرې امريکائي او افغان کورنۍ رسنۍ خپروي.
د جګړې ښکېل اړخونه (امريکا او ورسره ملګرې هيوادونه، افغان حکومت او طالبان) بايد هر لورى د سولې اړوند رسمي متفق آدرس ولري. دا مهال افغان حکومت د سولې شورا تر نوم لاندې آدرس لري، خو نه يوازې دا چې واک او صلاحيتونه يې محدود دي، بلکې د افغان حکومت په دننه کې هم د سولې اړوند د يوه متفق آدرس نه شتون خلا ليدل کيږي.
امريکا چې په افغان جګړه کې د ايتلافي ځواکونو مشرې کوې، دوی د سولې اړوند هيڅ آدرس جوړولو ته تر دې مهاله قانع نه دي، او له مسؤليت څخه تيښته کوي.
طالبان لا هم د نړيوالې ټولنې له خوا منلی رسمي آدرس د سولې خبرو لپاره نه لري، تر څو چې د سولې لپاره اړين منل شوې او توافق شوې آدرسونه شتون ونه لري، د سولې هر ډول غونډې او ناستې به پرته له نتيجې پای ته رسيږي.
د کابل پروسې غونډه (۲۸ اپريل ۲۰۱۸) کې د ګډ حکومت د مشر لخوا تر ډيره د سولې اړوند مثبت وړانديزونه وشول، ولې د جګړې اصلي لامل پکې له پامه غورځول شوی وو، کوم چې په هيواد کې د بهرنيو پوځيانو شتون دی، همدا رنګه همدا د جګړې اصلي لامل په اندونيزيا کې د علماوو د غونډې پر مهال له پامه غورځول شوی وو.
تر څو چې د جګړې عامل (بهرني پوځيان) شتون ولري، جګړه به دوام کوي، او سولې ته رسېدل به ستونزمن وي.
دا چې د طالبانو ولې د ګډ حکومت د مشر د سولې وړانديز ته غبرګون ونه ښود، تر ډيره داسې ښکاري تر څو چې طالبان د نړيوالو لخوا منل شوی رسمي آدرس ونه لري، همداسې وړانديزونو ته به غبرګون هم ونه ښيي، ځکه که هر ډول غبرګون د طالبانو لخوا وښودل شي، هغه به د غير رسمي غبرګون معنی ورکوي، او نړيوال به په هغه حيثيت ورته قانع وي، لکه د کومې غير رسمي وسلوالې ډلې غبرګون ته چې په نوره نړۍ کې ګوري، او که غبرګون د دوی د خوښې وو، ښه، که نه وي، بيا به وايي چې دا د يوې وسلوالې ډلې غبرګون دی او دومره زيات اهميت نه لري. لکه همدا اوس چې نړيوالې او کورنۍ رسنۍ راپور ورکوي چې يو تن د طالبانو وياند ځان معرفي کوي، ذبيح الله مجاهد، د طالبانو نومول شوی ( د سوري / ساپي والي) او داسې نور...
د مجاهدينو ځينې رهبران چې د ډاکتر نجيب الله سره د سولې مخامخ خبرې يې له پېښور او اسلام اباد څخه پرته له فکر کولو سمدستي ردولې، نن په کابل کې ناست او خپله تجربه يې هيره، پر طالبانو تور لګوي چې د پرديو په اشاره له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته نه کښيني، هغه وخت د مجاهدينو مشرانو بالاخره په اسلام اباد کې د پخواني شوروي اتحاد د بهرنيو چارو وزير نيکولای کوزيروف سره د اګست ۱۲مه ۱۹۱۹ وکتل، او د افغانستان د راتلونکي نظام په اړه يې خبرې وکړې. او د ډسمبر ۲۱مه ۱۹۹۱ز کال کې د مجاهدينو ځينو مشرانو د صبغت الله مجددي په مشرۍ بيا ځل د روسيې د ولسمشر د مرستيال الکساندر روتسکوی په مشرۍ د پخواني شوروي اتحاد له هيئت سره په اسلام اباد کې وليدل. د بنديانو د تبادلې اړوند خبرې يې وکړې.
په اسلام اباد کې تر ليدنو وروسته د مجاهدينو د مشرانو هيئت ماسکو ته ولاړ، د روسيې د بهرنيو چارو وزير شواردناذز ته (نومبر ۱۹۹۱) کې د ناستې پر مهال د مجاهدينو د مؤقت حکومت د بهرنيو چارو وزير استاد رباني وويل:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

" تاسي له رژيم سره د ډيالوګ خبره وکړه، موږ صريحاً وويل، د ملګرو ملتونو مشر ته مو هم ويلي دي، چې هيڅ مسلمان افغان حاضر نه دی چې داسي ډيالوګ چې يو طرف يې د نجيب رژيم وي اشتراک وکړي، او له نجيب سره ډيالوګ امکان نه لري. تاسي روسانو د اګست مياشتی د کودتاه کوونکي د محاکمي ميز ته کش کړي؟ موږ څه ډول د خپل ملت له قاتل سره خبرو ته کښينو. دا مسئله نه عدالت قبلوي او نه تاسي او نه موږ. ډاکټر نجيب يونيم ميلون انسانان وژلي موږ څه ډول له کولای شو هغه د خپلو اينده تصاميمو کي شريک کړو. داچي تاسي واياست شوروي په دي باره کي کوم کار نه شي کولای، موږ وايو چې د رژيم جنايتونه ستاسي په مرستو پورې وابسته دي.
" مجاهدين درماسکو (مذاکرات با روسها) کتاب
ځيني افغانان وايي چي کله اوباما (فبروي ۲۰۱۳) له افغانستان څخه د امريکائي پوځيانو وتلو اعلان د ۲۰۱۴ تر پايه وکړ، طالبانو جګړو ته زور ورکړ، ولي تر دی له مخه د مخکيني ولسمشر حامد کرزي او د امريکا د هغه وخت د ولسمشر اوباما تر منځ ستراتيژيک تړون لاسليک (۲ مئ ۲۰۱۲) او د امنيتي تړون د لاسليک لپاره ګډي کميټی کار کاوو، تر څو په افغانستان کي امريکائي پوځيانو ته په رسمي ډول اډې ورکول شي او تړون يې لاسليک شي.
د ستراتيژيک تړون له لاسليک کولو وروسته اوباما پرته له دي چي له افغان حکومت، ملګرو ملتونو او يا طالبانو سره پټ او ښکاره تفاهم ولري، د خپلو پوځيانو د وتلو شکمن اعلان يې وکړ، چي په هيڅ ډول باوري اعلان نه وو، ښه به وای چي اوباما د خپلو پوځيانو د وتلو اعلان د تفاهم په نتيجه کي کړی وای.
ځيني افغان چارواکي په صراحت او ټينګار سره دا خبره کوي چي کله طالبانو پر کندز حمله وکړه، او کندز ښار يي تر ولکي لاندي راوست، امريکا مجبوره شوه چي خپل پوځيان په افغانستان کي وساتي، ځکه له کندز څخه جرمنيان او ناټو ځواکونه ووتل، طالبانو حمله وکړه، همدارنګه هلمند او نورو سيمو کي چي د امريکا او ناټو ځواکونه له سيمو ووتل، طالبانو خپلو حملو ته زور ورکړ.
ولي دوی دي ته نه دي متوجه چي کله ډاکټر غني واک ته ورسيد، د خپل واک په دوېمه ورځ (۳۰ سپتمبر ۲۰۱۴) يي له امريکا او ناټو سره امنيتي تړون لاسليک، او امريکا ته يي په هيواد کي ۹ اډې ومنلي چي امريکايي پوځيان به په يادو اډو کي ځای په ځای کيږي، له همدی کبله وه چي امريکايانو هڅه کوله چي خپل پوځيان له ځينو سيمو څخه اډو ته انتقال او له مرګ ژوبلي څخه ځان وژغوري.
له همدې تړون څخه پوره يو کال وروسته (۲۸ سپتمبر ۲۰۱۵) طالبانو پر کندز حمله وکړه او کندز ښار يي د څو ورځو لپاره تر خپل واک لاندي راوستی، دوېم ځل يي د کندز ښار د اکتوبر ۲مه ۲۰۱۶ د يوې اونۍ لپاره تر خپل کنټرول لاندي راوست. دا معنی چي د امريکا او افغان حکومت تر منځ له امنيتي تړون وروسته طالبانو خپلو حملو ته ډير زيات زور ورکړ، کله چي تړون نه وو لاسليک شوی، طالبانو کوم ولايت ته سقوط هم نه وو ورکړی.
جګړه ورځ تر بلي زور اخلي، دا مهال افغان ځواکونه په ډيرو ليرتو پرتو سيمو کي يوازې د ولسواليو مرکزونه په کنټرول کي لري، او نږدې ۶۰ ولسوالی په بشپړ ډول د طالبانو لاس کي دي، د مئ ۱۵مه ۲۰۱۸ طالبانو د فراه ولايت د ښار ډيرې برخي تر کنټرول لاندي راوستلي، نظامي تجهيزات يي ورڅخه يوړل او د شپې مهال بيرته له ښاره ووتل، د مئ ۱۶مه يي بيا ځل د ښار له دننه د شپې مهال حمله پيل کړه او د ښار ځيني برخي يي تر کنټرول لاندي راوستلي.
د غزني – پکتيکا لويه لاره د طالبانو له خوا تړل شوې، د هلمند، ارزګان، بغلان ، کندز، غور او بادغيس ولايتونو د مرکزونو په دوه او درې کيلومتري کي د طالبانو وسلوال شتون او فعاليت لري.
ځيني افغان سياستوال وايي چي ولي بايد له امريکا سره طالبان پر مخامخ خبرو ټينګار وکړي، کله چي دوېم ځل اوباما د مئ ۲۵مه ۲۰۱۴ باګرام هوايي اډې ته راغی، خپلو پوځيانو سره يي وليدل خو د هغه وخت له ولسمشر حامد کرزي سره يي ونه کتل، او نه د يوه خپلواک هيواد د ولسمشر په حيثيت ورته قايل شو، نه يي افغانستان ته په راتګ حامد کرزی خبر وو او نه يي په بيرته تللو کي په جريان کي وو. همدا ډول کله چي د امريکا د بهرنيو چارو وزير ټيلرسون په باګرام هوايي اډه کي کښته او د ګډ حکومت له مشرانو (ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله) څخه يي وغوښتل چي باګرام هوايي اډې ته د ناستي لپاره ورشي، دواړه مشران ورغلل او هلته يي د اکتوبر ۲۳مه ۲۰۱۷ په باګرام کي ورسره وليدل.
ځيني وايي چي ولي طالبان د حزب اسلامي د سولي تجربي څخه ګټه نه پورته کوي، د حزب اسلامي د اجرائيه شورا غړي استاد محمد زمان مزمل د مئ ۱۴مه ۲۰۱۸ د افغانستان د پوهنتونو د استادانو لخوا د سولي اړوند غونډې ته وويل: " حزب اسلامي به اوس زده کړې وي چي طالبان ولي له افغان حکومت سره خبري نه کوي، او دا څومره مشکله ده، د حزب اسلامي سره د افغان حکومت له خوا ژمنه شوی وه چي د شمشتو کيمپ کي افغان مهاجرو د کورنيو لپاره به په کابل کي پنډ غالي ورکوي، مګر د حکومت د ننه د اختلافاتو له امله لا تر دې مهاله حزب ته ژمنه شوې ځمکه نه ده ورکول شوي. "
بله لويه ستونزه دا هم ده چي د امريکائي چارواکو او افغان چارواکو له لوري د سولي اړوند تحريفونکي نظريات وړاندي کيږي، مثلاً: جنرال نيکولس د مارچ ۱۹مه ۲۰۱۸وويل: پر طالبانو فشار زيات شوی، ځيني د طالبانو له


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ډلې سولې ته ليوالتيا ښودلې، او موږ به پر طالبانو سياسي، مذهبي، ولسي او سيمئيز فشار لا زيات کړو، په اندونيزيا کې د علماوو کيدونکې غونډې يادونه يې وکړه چې د طالبانو د جګړې په رد او ناروا والي به فتوی ورکړي.
همدارنګه کله چې د مئ مياشتې په ۱۱مه د افغانستان، پاکستان او اندونيزيا دعلماوو ګډه غونډه وشوه، د پريکړه ليک سره په تحريف کې د افغان رسنيو او افغان چارواکو څرګندونې هغه مهال او لا هم دوام لري.
سوله د ټاکنو لپاره ښه شعار ګرځول شوی، او د ټاکنو پر مهال افغان سياستوال د ورکې سولې شعار په بدرګه کولو سره خپل پلويان زياتوي. دا ځل د ټاکنو د نوم ليکنې بهير کې د افغان ولس تت او کم رنګه ګډون دا په ګوته کوي چې دوی د سولې تر شعار لاندې نور نه غولول کيږي، او رښتونې سوله غواړي.
په زړه پورې ده، له يوې خوا د سولې ږغ، او له بلې خوا د بمباريو، وژنو، بندي کولو ډيرښت، چې ضد او نقيض اعمال دي، د امريکائې او افغان چارواکو د قول او عمل تر منځ توپير څرګندوي.
د امريکا دا پريکړه چې بيت المقدس يې د اسرايلو د پلازمينې په توګه رسمې وپېژاندی او هلته يې خپل سفارت له تل ابيب څه ور انتقال کړ، پر افغان سوله لا زيات ناوړه اغيز شيندلای شي.
څومره چې موږ (افغانان) سولې او له نړۍ سره ښو اړيکو ته اړتيا لرو، همدومره امريکا او حتی زيات اړتيا لری، اوس مهال په سېمه کې ډير هيوادونه د دوی نظامی، اقتصادي او سېمئيزې ګټې ننګوي، روسيه، چين، ايران او پاکستان د امريکا ګټو ننګونکې يو ځانګړې بلاک د جوړيدو هڅې کوي، چې ترکيه به هم د ياد بلاک مهم غړی وي، په دغسي يو حالت کې امريکا ته په کار ده چې د افغانستان مسئلې ته جدې فکر او له علمي او منطقي اړخه يې و ارزوي، په اړه يې داسي پريکړو ته ورسيږي چې نور دا اوږده جګړه ختمه، امريکايې او افغان ولس د هوسايې ساه واخلي. که امريکا لا هم په جګړه ټينګار کوي، پرته له شکه امريکا بايلونکي او افغان ولس ګټونکی دی.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ